قرآني بيان پهٔ نوم د

# د مولٰی علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ
# د سخاوت شان

د مدني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه امام مساجد (دعوت اسلامي) لاندې جوماتونو د پاره



د جُمعَةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 21 مارچ، کال 2025ء ( 20 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1446ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان پهٔ نوم د

# د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د سخاوت شان

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د شهادت واقعه
- د څلورو درهمو د خيرات کولو څلور اندازونه
- د حيدر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د کورنۍ ځانګړے سخاوت
- پهٔ اختر کښې غريبانان ياد ساتئ!

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د دوارو جهانونو سلطان، سَرورِ ذِیشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي چي: په ما باندې درودِ پاک لوستل په پلِ صِراط باندې نُور دے خوک چې د جُمعې په ورځ په ما باندې 80 کرته درودِ پاک ولولي د هغهٔ به د 80 کالو ګناهونه معاف شي- (1)

پڑھتا رہوں کثرت سے درود ان پہ سدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## الوداع الوداع د روژې میاشتې---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د روژې د میاشتې اخرئ عشره جاري ده، الله پاک دې کړي چې خکال د روژې میاشت د 30 شي.

دیکھ کر چاند میں رو پڑا تھا | سامنے ہجر کا غم کھڑا تھا
جلد رخصت کا وقت آگیا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے

[1]… اَلْفِرْدَوْس بمأثور الْخِطاب، جلد:2، صفحه:408، حديث:3814۔
[2]… وسائلِ بخشش، صفحه:114۔

| | |
|---|---|
| اشک آنکھوں سے اب بہ رہے ہیں | ہجر کا غم جو ہم سہ رہے ہیں |
| وہ دِلِ غمزدہ جانتا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے |
| کر کے تقسیم بخشش کی اَسناد | آہ! رنجیدہ دِل کرکے تُو شاد |
| سب کو روتا ہوا چھوڑتا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے (1) |

د رَمَضَانُ المُبَارَک اوس يو څو ورځې پاتې دي، آه! دا مبارک سعتونه به هُم ډير زر ختم شي، د روژې مياشت به مونږ ته داغِ مُفارقَت (يعني د جُدايي غم) راکړي او رُخصت به شي، ځکه دا مبارک سعتونه غنيمت وګڼئ او ښه ډيره توبه او استغفار وکړئ، چې څومره درنه کيدے شي نو نيکئ وکړئ چې پۀ ژوند کښې به مو بيا د روژې مياشت نصيب کيږي او که نۀ، د دې زمونږ سره هيڅ ګارنټي نشته-

| | |
|---|---|
| الٰہی رہ گئے رمضاں کے آخِری روزے | رہائی نارِ جہنّم سے ہو عطا یاربّ! |
| اِلٰہی رِہ گئیں رمضاں کی آخِری گھڑیاں | کرم سے بخش بھی دے ہم کو یاخُدا! یاربّ! (2) |

الله پاک دې مونږ ته د دې مبارکو سعتونو د غنيمت ګڼلو او پۀ دې کښې د ښه ډيرو نيکو کولو او د بخښنې د ذريعې جوړولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د شهادت واقعه

پۀ 21 رَمَضَانُ المُبَارَک د مسلمانانو د څلورم خليفه، اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت مولیٰ علي، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د شهادت ورځ ده-

دا د کال 40 هجري واقعه ده، پۀ دې کال د رَمَضَانُ المُبَارَک مياشت حضرت مولیٰ علي، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ داسې تيره کړله چې يو روژه ماتے به يې د خپل شهزاده امام حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره کولو، يو روژه ماتے به يې د حضرت اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره کولو او د يو

1...وسائلِ بخشش، صفحه:683 ملتقطًا۔
2...وسائلِ فردوس، صفحه:28۔

روژه ماتي د پاره به يــې د حضرت عبد الله بن جعفر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُماخوا له تشريف وړلو، معمول مبارک يــې دا وو چې د دريو نمړو نه به يــې زيات خوراک نهٔ کولو او فرمائيل به يــې: ما ته دا ښه معلوميږي چې د الله پاک سره د ملاقات پهٔ وخت زما خيټه خالي وي- د شهادت پهٔ شپه (يعني د کومې شپې پهٔ سحر چې پهٔ هغوئي د وژلو حمله وشوه، پهٔ هٰغه شپه) خو يــې حالت دا وو چې بيا بيا به يــې د کور نه بهر تشريف راوړلو او د اسمان طرف ته به يــې کتل او فرمائيل به يــې: پهٔ الله پاک مې دې قَسم وي! ما ته هيڅ خبر د دروغو نهٔ دے راکړے شوے، دا هم هٰغه شپه ده د کومې چې وعده شوې ده (لکه چې حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُته د خپل شهادت د مخکښې نه عِلم وو)- [1]

د 17 يا د 19 رَمَضَانُ المُبَارَک سحر وو، هغوئي د پيشمني پهٔ وخت رابيدار شو، چې د سحر د نــمونځ وخت وو نو هغوئي د جومات طرف ته روان شو، پهٔ لاره کښې يــې خلقو ته د نــمونځ د پاره اوازونه کول او تشريف يــې وړلو چې ناڅاپه اِبنِ مُلجَم بد بخته پهٔ مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُباندې پهٔ توره ګزار وکړو، پهٔ کومې چې د هغوئي تندے مبارک ډير زخمي شو- پهٔ دې کښې د څلور وارو اړخونو نه خلقو رامنډې کړې او اِبنِ مُلجَم بد بخته يــې ونيولو- د دې غمژني پيښې نه دوه ورځې پس هغوئي د شهادت مرتبه ترلاسه کړه- [2]

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُښه سلوک

پهٔ روايتونو کښې دي چې: اَمِيرُ المُؤمِنِين مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُپهٔ زخمي حالت کښې وو، اِبنِ مُلجَم نيولے شوے وو، مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُوفرمائيل: اِبنِ مُلجَم قيدي دے د دهٔ سره ښه سلوک وکړئ! دا پهٔ ښه ځائے کښې پاتې کړئ--!! که زهٔ ژوندے پاتې شوم نو زما خوښه ده چې زهٔ دا معاف کووم او که بدله ترينه اخلم، که زهٔ شهيد شوم نو د الله پاک پهٔ

1...سوانحِ کربلا، صفحه:77 خلاصةً۔

2...تاريخ الخلفاء، صفحه:113112 ملتقطًا۔

بارګاه کښې به د دۀ نه بدله اخلم- [1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! اے د شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عاشقانو! غور وکړئ چې اِبنِ مُلجَم د قتل حمله وکړه، د دې حملې په وجه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ زخمي دے، شهادت ته نزدې دے، د دې باوجود هغوئي د اِبنِ مُلجَم سره ښومره ښه سلوک کوي--!! آه! د سر دښمن سره ښه سلوک خو غټه خبره ده، مونږه خو د یو ښو پیسو په وجه د خپلو سَکه ورونړو سره جګړې کوو، په وړو وړو خبرو د خپلو خپلوانو سره خپلولي او غم ښادي پریږدو- الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم وکړي- کاش چې مونږه د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د سیرت نه سبق حاصل کړو او ښوک چې زمونږ سره خراب سلوک کوي، د هغۀ سره هم ښه سلوک وکړو- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د سخاوت شان

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت مولیٰ علي، شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شان ډیر لوئي دے، د قرآنِ کریم ډیر آیتونه د هغوئي په حق کښې نازل شول- **د حضرت مولیٰ علي** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ **یو ډیر ښکلے صفت کوم چې قرآنِ کریم په ډیرو ځایونو کښې بیان کړو، هغه دے: د هغوئي د سخاوت شان او د صدقې او د خیرات کولو عادت-** سخیان خو نور هم ډیر دي، د صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان سیرت چې ولولئ نو ډیر سخیان به درته میلاؤ شي خو د سخاوت چې کوم ځانګړے انداز قرآنِ کریم د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ بیان کړے دے، دا هم د هغوئي خاصیت دے-

## د مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یو خاصیت

په قرآنِ کریم کښې د یوې داسې صدقې ذِکر هم موجود دے کومه چې صِرف او صِرف

---

1...طبقات الکبریٰ، جلد:3، صفحه:25-

حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ادا کړې ده، بَل چا ته پۀ دې باندې د عمل کولو هډو وخت میلاؤ نۀ شو- هغه صدقه کومه ده؟ الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ<br>(پاره:28، سورۀ مجادله:12) | ترجمۀ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ چې کله تاسو رسول ته پۀ تنهایۍ کښې څۀ خبره عرض کول غواړئ نو د خپل عرض نه مخکښې څۀ صدقه ورکړئ- |

پۀ دې آیت مبارک کښې الله پاک حکم وکړو چې کله تاسو زمونږ د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې پۀ تنهایۍ کښې څۀ عرض کول غواړئ نو د هغې نه مخکښې صدقه ورکوئ! **د بعضې روایتونو مطابق پۀ دې حکم باندې صرف حضرت مولیٰ علي** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **عمل وکړو، هغوئي یو دِینار [یعني د سرو زرو سِکه] صدقه کړه او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **نه یې د 10 مسئلو پوښتنه وکړه-** [1]

چې بَل یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ دې باندې عمل کړے وے، د دې لا هډو موقع نۀ وه راغلې چې دا حُکم منسوخ شو او الله پاک دا آیت مبارک نازل کړو:

| | |
|---|---|
| ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ<br>(پاره:28، سورۀ مجادله:13) | ترجمۀ کنزُ العِرفان: آیا تاسو د دې خبرې نه ویَریدئ چې تاسو د خپل عرض نه مخکښې څۀ صدقه ورکړئ، بیا چې تاسو (دا) ونکړل او الله پۀ خپله مهربانۍ پۀ تاسو رجوع وفرمائیله، نو تاسو نمونځ قائم ساتئ او زکوٰة ورکوئ او د الله او د هغۀ د رسول فرمانبرداره اوسئ- |

حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: چې کله دا آیت مبارک:

1...تفسیر مدارک، پاره:28، سورۀ مجادله، زیرِ آیت:12، جلد:3، صفحه:450۔

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ (پاره:28 ، سورهٔ مجادله:12) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ چې کله تاسو رسول ته پۀ تنهايئ کښې څۀ خبره عرض کول غواړئ- |

نازل شو نو د الله پاک اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته وفرمائيل: ستاسو پۀ خيال يو دينار ټيک دے؟ ما عرض وکړو: خلق به د دومره وَس نۀ لري- اوئې فرمائيل: نيم دِينار- ما عرض وکړو: دا به هم ورنکړے شي- حضور پر نُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بيا څومره پکار دي- ما عرض وکړو: د وربشو د يوې دانې برابر- اوئې فرمائيل: تاسو خو ډير تنګدسته يئ - بيا دا آيت نازل شو:

| | |
|---|---|
| ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ (پاره:28 ، سورهٔ مجادله:13) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: آيا تاسو د دې خبرې نه ويَريدئ چې تاسو د خپل عرض نه مخکښې څۀ صدقه ورکړئ- |

حضرت علي المُرتضىٰ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: بس زما پۀ وجه الله پاک پۀ دې اُمّت باندې اسانې وفرمائيله-[1]

سُبْحٰنَ الله! دا د حضرت مولىٰ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څانګړے شان دے،چې پۀ ټول اُمّت کښې هغوئي ته د يوې داسې صدقې ورکولو سعادت هم حاصل دے د کومې صدقې د ورکولو چې بَل چا ته موقع هُم ميلاؤ نۀ شوه-

يا علیَّ المرتَضیٰ، مولیٰ علی مشکل کشا | آپ ہیں شیرِ خدا، مولیٰ علی مشکل کشا
پیکرِ جُودو سخا تُو، میں فقیر و بےنوا | تُو ہے داتا میں گدا، مولیٰ علی مشکل کشا

1...ترمذی، کتاب التفسیر، باب ومن سورۃ المجادلۃ، صفحہ:760، حدیث:3300۔

## د څلورو درهمو د خیرات کولو څلور اندازونه

دغه شان په دریمه سیپاره، سورۀ بقره، آیت: 274 کښې هم د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ځانګړي سخاوت بیان دے، الله پاک فرمائي:

اَلَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّیْلِ وَ النَّهَارِ سِرًّا وَّ عَلَانِیَةً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْۚ وَ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ(۲۷۴)

(پارہ:3، سورۂ بقرہ:274)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هٔغه خلق چې په شپه کښې او ورځ کښې پټ او ښکاره خپل مالونه خیرات کوي د هغوئي د پاره د هغوئي اجر د هغوئي د رب سره دے، په هغوئي به نۀ څۀ ویره وي او نۀ به هغوئي غمژن کیږي۔

د یو قول مطابق دا آیت مبارک هم د مسلمانانو د څلورم خلیفه اَمِیرُ الْمُؤمِنِین حضرت مولیٰ علي، شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په شان کښې نازل شو، د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره صرف څلور درهمې وې نور ورسره څۀ نۀ وو، هغوئي هٔغه څلور واړه درهمې د الله پاک په لار کښې صدقه کړې او د صدقې کولو انداز یې خومره ځانګړے وو، هغوئي یو درهم د ورځې صدقه کړو، یو درهم یې د شپې صدقه کړو، یو درهم یې ښکاره صدقه کړو او یو درهم یې په پټه صدقه کړو۔ (1)

د الله کریم د حضرت علي الْمُرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دا ادا خوښه شوه نو الله پاک دا آیت مبارک نازل کړو او اوئې فرمائیل چې هٔغه خلق کوم چې شپه او په ورځ کښې، په پټه او ښکاره صدقه کوي، د هغوئي د پاره د هغوئي د رَبّ سره اَجر دے، په هغوئي باندې به نۀ څۀ ویره وي او نۀ به هغوئي غمژن وي۔

پیکرِ جُودو سخا تُو، میں فقیر وبے نوا | تُو ہے داتا میں گدا، مولیٰ علی مشکل کشا

1...تفسیر درِّ منثور، پارہ:3، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:274، جلد:2، صفحہ:100۔

بھیک لینے کیلئے، دربار میں منگتا ترا | لے کے کشکول آ گیا، مولیٰ علی مشکل کشا
کیوں پھروں در در، بھلا خیرات لینے کیلئے | میں فقط منگتا تِرا، مولیٰ علی مشکل کشا

## زمونږه د خيرات كولو انداز

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د مسلمانانو د څلورم خليفه اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ---!! د هغوئي سره صرف څلور درهمې وې، هغوئي هٔغه څلور واړه د الله پاک په لار کښې خيرات کړې! او اندازيې د څلور واړو د پاره مختلف وساتلو، يو يې په ورځ کښې خيرات کړو، يو يې په شپه کښې، يو يې په پټه خيرات کړو او يو يې په ظاهره چې پته نهٔ لګي چې کوم يو درهم او کوم يو انداز د الله پاک خوښ شي او د زيات قبوليت شرف بيامومي او په رحمتونو او برکتونو کښې د نور زياتوالي سبب جوړ شي-

دا د صحابئ رسول، مولائے کائنات رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمبارک انداز دے او بل خوا زمونږ حالت دا دے چې کله د صدقې او د خيرات کولو همت هم وکړو نو د الله پاک د رضا نيت چرته وي---!! څنګه اِخلاص او للّٰهِيَّت چرته وي---!! بس چې په څهٔ طريقه خلقو ته معلومه شي چې جناب نن دومره روپۍ خيراتي کړې دي! تر څو پورې چې زمونږه صدقې او خيرات ته شهرت ميلاؤ نهٔ شي نو سکون نهٔ راځي، که په جومات کښې څهٔ ورکړو نو خواهش مو وي چې اِمام صاحب مو نوم واخلي او دُعا وکړي چې خلقو ته زما د چندې ورکولو پته ولګي- که د يو مسلمان سره مو ښيګړه وکړه نو خواهش مو هم دا وي چې بيا څهٔ داسې صورت هم جوړ شي چې زمونږه نوم راشي، د خلقو په ژبه باندې بس زمونږ د سخاوت خبرې وي، که په چا باندې احسان وکړو نو خواهش مو وي چې دا زمونږه خادِم جوړ شي، زمونږه تعريفونه کوي حالانکې قرآنِ کريم مونږ ته د احسان نهٔ ضباطلو او د هغې بدله صِرف د الله پاک د ذات نه د غوښتلو حکم راکوي:

اَلَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا یُتْبِعُوْنَ مَاۤ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّ لَاۤ اَذًىۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْۚ

(پاره:3، سورۀ بقره:262)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هُغه خلق چې خپل مالونه د الله پهٔ لاره کښې لګوي، بیا د خرچ کولو نه پس نهٔ احسان ضباتي او نهٔ تکلیف ورکوي د هغوئې انعام د هغوئي رب سره دے۔

الله پاک دې زمونږه هم د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د سخاوت د شان او د سخاوت د انداز نه حصه نصیب کړي- کاش چې د اخلاص او د صفا نمونې، مولیٰ مشکل کُشا حضرت عليُّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ وسیله زمونږه هم د اِخلاص سره د صدقې او د خیرات کولو جذبه او سعادت نصیب شي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی! (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حیدر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د کورنۍ ناآشنا سخاوت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ قرآنِ کریم کښې پهٔ یو بَل ځائے کښې هم د حیدر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د کورنۍ د ناآشنا سخاوت بیان دے، پهٔ 29 سیپاره، سورۀ دَهر، آیت: 8 او 9 کښې ارشاد دے:

وَ یُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰی حُبِّهٖ مِسْكِیْنًا وَّ یَتِیْمًا وَّ اَسِیْرًا ﴿۸﴾ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِیْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّ لَا شُكُوْرًا ﴿۹﴾

(پاره:29، سورۀ دهر :98)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغوئي د الله پهٔ محبت کښې پهٔ مسکین او یتیم او قیدي باندې طعام خوري- مونږه خاص د الله د رضا د پاره پهٔ تاسو طعام خورو. مونږه نهٔ تاسو نه بدل غواړو او نهٔ شکریه-

1...وسائلِ بخشش، صفحه:105۔

پهٔ دې آيت مبارک کښې د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ او د هغوئي د کور والؤ د ايمان تازه کوونکي سخاوت بيان دے، پهٔ روايتونو کښې دي: يو ځل حضراتِ حسنين کريمين (يعنې اِمامِ حسن مجتبیٰ او اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما) ناروغه شول، پهٔ دې باندې د هغوئي بابا جان حضرت علي شيرِ خُدا، د هغوئي خوږې مور جانې سيده خاتونِ جنَّت فاطِـمَۃُ الـزَہراء او د هغوئي خادِمې حضرت فِضّه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم مَنَښته وکړه چې که اللّٰه پاک شهزادګانو ته صحت عطا کړي نو مونږ به درې روژې نيسو-

نو د اللّٰه پاک کرم وشو، د دواړو شهزادګانو صحت نصيب شو، نو د مَنَښتې پوره کولو د پاره دريو واړو حضراتو عالي وقار درې روژې ونيولې- حضرت علي الْمُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُدرې صاعه وربشې راوړلې، وړومبۍ روژه يــې ونيوله، د روژه ماتي د پاره يو صاع (يعنې تقريباً 4 کلو د وربشو) ډوډۍ پخې کړے شوې، چې د روژه ماتي وخت شو نو د دريو واړو روژه نيوونکو مخې ته ډوډۍ کيښودلے شوې، د روژه ماتي انتظار کيدلو چې دروازې ته يو مسکين حاضر شو، هغهٔ د ډوډۍ د پاره سوال وکړو، د سخيانو کورنۍ وه، دَر ته راغلے سوالګيرے دې خالي لاسونه لاړ شي، دا هغوئي چرته خوښول، نو ټولې ډوډۍ يــې هٰغه مسکين له ورکړې او دريو واړو حضراتو عالي وقار پهٔ اوبو باندې روژه ماته کړله، پهٔ بله ورځ باندې بيا د روژه ماتي وخت شو، يو صاع (يعنې تقريباً 4 کلو) د وربشو ډوډۍ پخې کړے شوې، دسترخوان تيار کړے شو، د روژه ماتي انتظار کيدلو، نن يو يتيم دروازې ته راغلو، هغهٔ هم د ډوډۍ سوال وکړو، د سخيانو کورنۍ نن هم ټولې ډوډۍ يتيم له ورکړلې، بخپله يــې روژه پهٔ اوبو باندې ماته کړله- دريمه ورځ راغله، بيا يو صاع (يعنې تقريباً 4 کلو) د وربشو ډوډۍ پخې کړے شوې او پهٔ دسترخوان باندې کيښودلے شوې، پهٔ دريمه ورځ هم يو سوالګيرے راغلو، اللّٰه! اللّٰه! قربان شم! د حيدر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُد کورنۍ څومره د کمال سخاوت دے، دې حضرات عالي وقار پهٔ دريمه ورځ هم صبر وکړو او ټولې ډوډۍ

يــېـ سوالګيري ته عطا کړلې او پخپله يــې پۀ اوبو باندې روژه ماته کړله- [1]

بھوکے رہ کے خود اَوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابِر تھے محمد کے گھرانے والے

اَللّٰہُ اَکْبَرْ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اندازه ولګوئ چې دا څنګه قرباني ده، څومره ځانګړے سخاوت دے- د اهلِ بيتِ اطهار پۀ پاکه کورنۍ کښې درې ورځې، درې ډوډۍ پخې کړے شوې او درې واړه ورځې سوالګيري راغلل، دې پاکو خلقو هم پۀ دريو واړو ورځو ټولې ډوډۍ صدقه کړې او پخپله يــې روژه پۀ اوبو باندې ماته کړله- د الله پاک د دې پاکو خلقو دا ځانګړې ادا دومره خوښه شوه چې رَبِّ کائنات پۀ قرآنِ کريم کښې د دې قربانۍ ذِکر وفرمائيلو، د دې ذِکر انداز ته هم وګورئ! د لفظونو پۀ ترتيب باندې يــې غور وکړئ! پۀ وړومبۍ ورځ **مسکين راغلے** وو، الله پاک وفرمائيل:

وَ يُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا (پاره:29، سورۀ دهر :8)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغوئي د الله پۀ محبت کښې پۀ مسکين-

پۀ **دويمه ورځ باندې يتيم راغلے** وو نو الله پاک پۀ دويم نمبر باندې د يتيم ذِکر وکړو او اوئې فرمائيل:

وَ يَتِيْمًا (پاره:29، سورۀ دهر :8)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او پۀ يتيم-

پۀ **دريمه ورځ باندې قيدي راغلے** وو نو الله پاک د دې ذِکر پۀ دريم نمبر باندې وکړو او اوئې فرمائيل:

وَ اَسِيْرًا (پاره:29، سورۀ دهر :8)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او پۀ قيدي-

---

1...تفسير خزائن العرفان، پاره:29، سورۀ دہر، زيرِ آيت:7، صفحه:1073 خلاصةً۔

## د مرتضیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سخاوت یو څو ښکلي اړخونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ دې آیت مبارک کښې د حضرت مولیٰ علي شیرِ خُدا او د هغوئي د کور والؤ رَضِیَ اللہُ عَنْہُم د ځانګړي سخاوت یو څو ښکلي اړخونه هم بیان کړے شوي دي۔

د ټولو نه وړومبے خو دې ته وګورئ چې کله څوک سخاوت کوي نو پهٔ دې کښې 2 څیزونه ډیر اهم کردار ادا کوي: **(1)**: د سخاوت کولو پهٔ وخت د هٔغه کَس خپل حالت څنګه دے؟ **(2)**: هغه کوم یو داسې څیز دے کوم چې پهٔ هغهٔ باندې سخاوت کوي؟ د یو سخي د سخاوت وزن د دې دوو څیزونو نه جوړیږي۔ اللّٰه پاک د حیدر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د کورنۍ د سخاوت دا دواړه اړخونه پهٔ دوو لفظونو کښې بیان کړل، فرمائي:

| ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د اللّٰه پهٔ محبت کښې۔ | عَلٰی حُبِّهٖ (پاره:29، سورهٔ دهر :8) |
| --- | --- |

مفسرینِ کرامو د دې دوو لفظونو معنې بیان کړې دي: **(1)**: دا چې د دې طعام پهٔ نورو د خوړلو پهٔ وخت هغوئي ته پخپله د دې خوراک ډیر حاجت او خواهش وو **(2)**: دا چې هغوئي د اللّٰه پاک پهٔ محبت کښې پهٔ نورو طعام خوړلو۔ [1]

دا دواړه خبرې بیان کړے شوې، حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او د هغوئي کور والا چې کله دا سخاوت کولو نو د هغوئي حالت داسې وو چې هغوئي درې روژې نیولې وې، درې واړه ورځې خوراک حاضر کړے شو، پهٔ داسې حالت کښې پخپله د خوراک خوړلو څومره حاجت او خواهش وي، نن سبا پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې مونږه هم روژې نیسو، د روژه ماتې پهٔ وخت مونږه د دې اندازه لګولے شو خو قربان شم! د حیدر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د کورنۍ د سخاوت نه، خوراک یې قرباني کړو او هغه هم کوم وخت، پهٔ کوم حالت کښې؟ چې

1...تفسیر خزائن العرفان، پارہ:29، سورۂ دہر، زیرِ آیت:7، صفحہ:1073۔

کله هغوئي ته ېخپله هم سخت حاجت وو- چې ېخپله خيټه موړ وي او انسان سخاوت وکړي نو دا اسانه خبره ده خو ېخپله وږے پاتې کيدل او پۀ نورو باندې خوړل دا مشکله خبره ده، د حيدر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د کورنۍ د سخاوت دا شان دے چې هغوئي ته ېخپله حاجت دے، خپل يې ضرورت دے خو دوئي خپل حاجت او ضرورت شاته غورځوي او پۀ نورو باندې يې خوري-

بيا دې ته وګورئ! چې هغوئي ته د دې سخاوت ترغيب کوم څيز ورکړو؟ آيا هغوئي مَعَاذَاللہ! شهرت غوښتلو، د خلقو پۀ زړونو کښې يې خپل محبت، خپل مقام زياتول غوښتل، د خپلو تعريفونو خواهش مند وو؟ نا---!! هيڅکله هم نا---! اللّٰہ پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| عَلٰی حُبِّهٖ (پاره:29، سورۀ دهر :8) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د اللّٰہ پۀ محبت کښې- |

د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ کور والؤ، دې پاکو خلقو درې ورځې ېخپله پۀ اوبو باندې روژه ماته کړله او پۀ مسکين، يتيم او قيدي باندې يې خوراک وخوړلو، د دې سبب څۀ وو؟ د اللّٰہ پاک محبت---!! دا ښکلے سخاوت يې د اللّٰہ پاک پۀ محبت کښې او د هغۀ د رضا د حاصلولو د پاره کولو-

سُبۡحٰنَ اللہ! دې ته وئيلے شي: سخاوت---!! دې ته وئيلے شي قرباني---!! خلق اول خو سخاوت هُم نۀ کوي؟ که کوي يې هم نو وړومبے خپل ضرورتونه پوره کوي، بيا د نورو طرف ته توجه کوي، بيا يې چې کله نورو له ورکوي هم نو ريا، بل ته ښودل، ځان خوښي او پته نۀ لګي چې کوم قِسمه باطني بيمارۍ مونږه راګيروي- کاش چې د حيدر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د کورنۍ پۀ وسيله اللّٰہ پاک مونږ ته د اخلاص نه د ډک سخاوت کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د قربانۍ زبردست فضیلت

یاد ساتئ چې پۀ خپل حاجت، خپل ضرورت باندې د نورو ضرورت له د ترجیح ورکولو نوم قرباني ده او قرباني د سخاوت اعلیٰ ترین صورت وي- د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کوم کَس چې د یو څیز خواهش لري، بیا د هُغه خواهش نه منع شي او پۀ ځان باندې (نورو له) ترجیح ورکړي، نو الله پاک هغۀ بخښي- [1]

سُبْحٰنَ الله! د حضرت مولیٰ علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پۀ وسیله دې الله پاک زمونږه د قربانۍ او د سخاوت توفیق نصیب کړي، کاش چې بغیر د حساب نه مو جنّت ته داخلیدل نصیب شي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| بِلا حساب ہو جنّت میں داخِلہ یاربّ! | پڑوس خُلد میں سرور کا ہو عطا یاربّ! |
| نبی کا صَدقہ سدا کیلئے تُو راضی ہو | کبھی بھی ہونا نہ ناراض یاخدا! یاربّ! |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شکریه کولو طلب یــې هم اونه ساتلو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک د حیدر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د کورنۍ د ځانګړي سخاوت یو بل ښکلے اړخ پۀ دې آیت کښې بیان کړو، ارشاد دے:

اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِیْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّ لَا شُكُوْرًا ﴿۹﴾ اِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا یَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِیْرًا ﴿۱۰﴾

(پاره:29، سورۀ دهر:109)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږه خاص د الله د رضا د پاره پۀ تاسو طعام خورو. مونږه نۀ تاسو نه بدل غواړو او نۀ شکریه- بے شکه مونږ ته د خپل رب نه د یوې داسې ورځې ویره ده کومه چې ډیره ترخه، نهایت سخته ده-

1...اِتحافُ السّادَة للزّبیدی، جلد:9، صفحه:779، جامع الاحادیث، جلد:3، صفحه:428، حدیث:9572-

يعنې ځانګړي سخي چې کله په مسکين، يتيم او قيدي باندې خوراک اوکړو نو هغۀ ته وائي: مونږه ستا نه بدله نۀ غواړو، چې تاسو مونږ ته شکريه ووايئ! Thanks ووايئ! مونږ ته د دې هم ضرورت نشته، مونږه خو صرف د الله پاک رضا غواړو، آه! ډيره زر يوه ورځ راتلونکې ده، په دغه ورځ باندې به د غير مسلمو مخونه وران شي، زمونږه د هغه ورځ نه ويره ده، مونږه په تاسو باندې خوراک دې د پاره وخوړو چې د هغې ورځې نه په امن کښې شو- [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا د اِخلاص اوچته مرتبه ده چې بنده په چا باندې اِحسان وکړي، د هغۀ د طرف نه د شکريه ادا کولو خواهش هم اونه لري، د هغۀ مخې ته صرف او صرف د الله پاک رضا وي، بس--!! د دې نه علاوه ورسره د هيڅ څه خيال نۀ وي-

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** زمونږه آسلافو به هم داسې سخاوت کولو- د مسلمانانو د خوږو ميئندو حضرت عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهره او اُمِّ سلمه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما معمول مبارک وو چې کله به يې فقير له څۀ هديه ليږله نو وړونکي ته به يې وئيل چې د هغۀ د دعا الفاظ ياد ساتۀ بيا به يې هم د هغې په شان الفاظو سره جواب ورکولو او وئيل به يې: د دُعا په بدل کښې مو څکه دُعا وکړه چې زمونږه صدقه محفوظ شي- [2]

کاش چې زمونږه هم د داسې سخاوت توفيق نصيب شي، چې مونږه هم په چا باندې احسان وکړو، صدقه ورکړو، نيکي وکړو نو د هيڅ قِسمه بدل خواهش ونکړو بلکې زمونږه مقصد صرف او صرف د الله پاک رضا وي-

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی!

---

1...تفسیر کبیر، سورۂ دہر، زیرِ آیت:109، جلد:10، صفحہ:748۔
تفسیر مدارک، سورۂ دہر، زیرِ آیت:10 9، جلد:3، صفحہ:578 ملتقطاً۔
2...احیاء علوم الدین، کتاب اسرار الزکاۃ، جلد:1، صفحہ:287۔

# پهٔ اختر کښې غريبانان ياد ساتئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږه د حضرت مولیٰ علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د سخاوت د شان پهٔ باره کښې واوريدل، د هغوئي د صدقې او د خيرات کولو سره ډيره شوق وو، د هغوئي سره څلور درهم وو، هغوئي څلور واړه د الله پاک پهٔ لار کښې خرچ کړل، هغوئي او د هغوئي کور والؤ درې روژې ونيولې، د دريو واړو د پاره يې خوراک پوخ کړو خو هُم پهٔ دريو واړو ورځو يې ځپله پهٔ اوبو باندې روژه ماته کړله او طعام يې صدقه کړو- مونږ له هم د دې نه سبق اخستل پکار دي ❁ اختر راتلونکے دے، که مونږه لږه سروے (Survey) وکړو نو زمونږ ګير چاپيره زمونږه پهٔ کلي، محله کښې، زمونږه پهٔ دوستانو او خپلوانو کښې به مونږ ته ډيره غريبانان پهٔ نظر راشي ❁ که الله پاک وَس درکړے وي نو د دغه غريبانانو سره هم نيکي وکړئ! ❁ چې خپلو ماشومانو له د اختر شاپنګ (Shopping) کوئ يا مو کړے وي نو دغه غريبانانو له هم څهٔ نا څهٔ ضرور ورکړئ!

❁ داسې به ډيره يتيمانان ماشومان وي کوم چې به نورو ته ګوري او خفه کيږي به ❁ د ډيره پهٔ سټرکو کښې به اوښکې راځي ❁ ډيره به سوچ کوي چې نن زمونږه هم پلار ژوندے وے نو مونږ له به يې هم د اختر شاپنګ کړے وے ❁ ډيره مور پلار به وي کوم چې به پهٔ بازار کښې رش ويني او پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې به سوچ کوي چې کاش! زما هم وَس کيدے، ما هم د خپلو ماشومانو د پاره نوې جامې، نوے پيزار اخستے وے ❁ ډيره مور پلار به د خپلو بچو پهٔ فرمائشونو اوريدو پهٔ زړهٔ کښې خفه کيږي- الله پاک که مونږ له وَس راکړے وي نو چې مونږه د هغوئي هم خيال وساتو، د هغوئي سره هم ښيګړه وکړو، که مونږه د غريبانانو سره مدد وکړو نو الله پاک به پهٔ مونږ باندې مهرباني وفرمائي- حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې بے مثاله سخاوت وفرمائيلو، درې ورځې يې پهٔ اوبو باندې روژه ماته کړه او د روژه ماتې د پاره يې تيار کړے شوے خوراک مسکين، يتيم او قيدي

له ورکړو نو پۀ دې باندې الله پاک د هغوئي شان څۀ بيان کړو؟ واوروئ! ارشاد دے:

فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَ لَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّ سُرُوْرًا ﴿۱۱﴾ وَ جَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّ حَرِيْرًا ﴿۱۲﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ۚ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّ لَا زَمْهَرِيْرًا ﴿۱۳﴾ وَ دَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَ ذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿۱۴﴾

(پارہ:29، سورۂ دھر:11 تا 14)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو هغوئي به الله د هٔغه ورځې د شر نه بچ کړي او هغوئي ته به تر و تازګي ورکوي- او د هغوئي د صبر پۀ سبب به هغوئي ته جَنَّت او ريښميني جامې پۀ بدله کښې ورکوي- هغوئي به جَنَّت کښې پۀ تختونو ډډې وهلې وي، نۀ به پۀ هغې کښې نـمر ويني او نۀ سخته يخني- او د هغې سوري [سايه] به پۀ هغوئي راښکته شوې وي او د جنت ګنګورې به لاندې راښکته کړے شوې وي-

دا ده د قربانۍ او د سخاوت د اخرت جزا--!! الله پاک دې مونږ ته هم د غريبانانو، مسکينانو او د يتيمانانو د خيال ساتلو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د عطياتو ترغيب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پۀ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقريباً **د 16500 نه زيات جامعات** او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** ماشومانو د پاره قائم دي، پۀ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره کم او زياته **5 لاکهه 30 زره** ده ❁ د زيات عمر

اِسلامي وروڼو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً د **74 زره 887** مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د لوستونڪو شميره د **4 لاکهه 26 زره** نه زياته ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمۍ پۀ ذريعه تقريباً 24 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي ❁ اوسه پورې تقريباً **21 دار الافتاء اهلسنت** جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې اوسطاً **20 زره** ده ❁ د **الـمدينةُ العلميه** ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذريعه پۀ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پۀ **1784 کتابونو او رسالو** باندې کار شوے دے، پۀ دې شعبه کښې ګڼ شمير مَدَني علمائے کرام فريضې ترسره کوي، د الله پاک پۀ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي ❁ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره **مکـتبة الـمدينه** جوړه کړې ده، چرته چې پۀ بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسيمِ رسائل (يعني د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسيم کولو) سلسله هم وي ❁ پۀ ټوله دُنيا کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظيمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعني د ګټې نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❁ د ميډيا مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❁ پرنټ ميډيا (يعني ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت **پۀ 7 مختلفو ژبو کښې** چاپ کيدونڪي کثير الاشاعت مياشتنۍ [يعني ماهنامه] ده پۀ ذريعه) ❁ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب (***YouTube***)، فيس بک (***Facebook***)، انسټاګرام (***Instagram***) وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټ، پۀ کومو باندې چې) تقريباً 50 ملين (***Million***) يعني 5 کروړه فالورز (***Followers***)

دي او د ویوز شمیره د بلینز (***Billions***) یعنې د 100 کروړه نه هم زیاتو پورې رسیدلې ده۔ ❁ او مَدَني چینل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چینل، د مشرانو د پاره مَدَني چینل او د عربۍ د ویب چینل په ذریعه د دِین اِسلام خدمت کولے شي ❁ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32** **موبائل ایپلي کیشن** او **40** **اِسلامک ویب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❁ په ټوله دُنیا کښې د مسلمانانو د خیر خواهۍ د پاره د ایف جي آر ایف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❁ **34 لاکهه 16 زره 673** وَنې نالې کړے شوې دي ❁ تقریباً د **76 لاکهه 82 زره 958** ګسانو امداد شوے دے ❁ **5 زره 566** کورونه جوړ کړے شوي دي ❁ **75 زره 721** د وینې ډراپونه عطیه کړے شوي دي ❁ هیلتھ کئیر سنټر ته اوسه پورې د **61 زره 667** مریضان راغلي دي۔

**تاسو هم د دین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده په هر قِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خیر ښیګړې په کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتیدونکي خرچې پوره کړے شي۔**

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د قرآنِ کریم فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَني قاعِده**

(***Madani Qaida***) دے۔ پۀ دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (***Audio***) شامله کړے شوې ده يعني پۀ دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پۀ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (***Click***) کوئ، پۀ آډيو (***Audio***) کښې به د هغې **تَلَفُّظ** چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پۀ مرستې سره پۀ اسانئ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (***Practice***) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن پۀ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**راځئ چې د بيان پۀ اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:**

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمئ پۀ ګوته کول)

**مسئله:** د روژې پۀ حالت کښې پۀ مسواک کولو کښې هيڅ باک نشته۔

**وضاحت:** پۀ خلقو کښې مشهوره ده چې د روژې پۀ حالت کښې مسواک نشي کولے۔ پۀ اصل کښې داسې نۀ ده، اصلي مسئله دا ده چې: د روژې پۀ حالت کښې هر قِسمه مسواک کولے شي د دې پۀ کولو روژه نۀ ماتيږي بلکې لکه څنګه چې پۀ عامو ورځو کښې مسواک کول سُنَّت دي دغه شان د روژې پۀ حالت کښې هم سُنَّت دے۔ آؤ! البته **دا خبره ياد ساتئ چې که روژه نيول درته ياد وي او پۀ چوپلو ريشې جدا شوې يا ذائقه محسوس شوه نو د چوپلو نه بچ کيدل پکار دي۔ د کوم مسواک نه چې ريشې لرې کيږي او روژه ياده وي او د مسواک ريشه حلق ته لاړه نو پۀ دې باندې روژه ماتيږي ۔** [1] پۀ

1... جنات کو برا بھلا کہنا کیسا؟، صفحه:10۔

فتاویٰ عالمګیري کښې دي: د روژې په حالت کښې په مسواک کولو کښې هیڅ باک نشته که مسواک وَچ وي او که لوند او که سحر وکړے شي او که ماښام- [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### يَابَارِئُ

څوک چې د هرې جُمعې په ورځ 10 کرته **يَابَارِئُ** لولي، الله پاک به هغۀ ته زوي عطا کړي- [2] اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...فتاویٰ ہندیہ، کتاب الصوم، الباب الثالث فیما یکرہ للصائم ومالا یکرہ، جلد:1، صفحہ:199۔

2...مدنی پنج سورہ، صفحہ:248۔